د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام



دا خبرپاڼه د هېواد د خپلواکۍ د سلمي کاليزې په وياړ د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت له لوري جوړشويو ننداريتونونو ته ځانګړې شوې‌ده.

## د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام:

د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام - WEERDP د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له رهبرۍ لاندې په ۲۰۱۸ ز کال کې په‌دې موخه پر لار واچول شو، چې د هېواد په کليوالي سيمو کې د ښځو اقتصادي او ټولنيز ژوند پياوړی کړي. د پروګرام اتيا ٪۸۰ ګټه اخيستونکي ښځې تشکيلوي. دا پروګرام به د سپما ګروپونو، توليدي ګروپونو، د پور او سپما کليوالي اتحاديو او د کوچنيو او منځنيو تشبثاتو له طريقه د کليوالي اقتصاد کچه لوړه کړي او د هېواد په کليوالي سيمو کې به زرګونه کليوالو ته د کار زمينه برابره کړي.



غازي شاه امان‌الله خان

## د مياشتې غوره کارمنده



دې ګڼه کې د پروګرام غوره کارمنده آغلې برېښنا اميري ټاکل شوې‌ده. آغلې اميري د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا ملي پروګرام د بېرته راستنېدونکو لپاره د تشبثاتو د پرمختيا پروژې- RED عملياتي کارمنده ده. هغه د کابل پوهنتون د ساينس پوهنځي څخه فارغه ده، تر څنګ يې د هالنډ هېواد څخه په اداره او سوداګرۍ برخه کې زده‌کړې کړې‌دي.

آغلې اميري له دوه کالو راهيسې د بېرته راستنېدونکيو لپاره د تشبثاتو د پرمختيا پروژه- RED کې کار کوي چې تر دې دمه ښه او د پام‌وړ لاسته‌راوړنې لري. له دې څخه وړاندې يې په خپله برخه کې له بېلابېلو ملي او نړيوالو ادارو سره هم دنده ترسره کړې‌ده.

د پروګرام ټول منصوبين د آغلې برېښنا اميري له فعاليتونو او نيکو اخلاقو څخه خوښ دي او په‌خپله کاري برخه کې نوموړې ته د لا زياتو برياو او خوښيو هيله لري.

# د هیواد د خپلواکۍ د سلمې کلیزې په ویاړ د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت جشن پرانیستل شو



د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کلیزې د نمانځلو په ویاړ د کلیوالي صنایعو رنګین نندارتون د یو لړ مراسمو په ترځ کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنل مجیب الرحمن کریمي، د ولسمشرۍ ماڼۍ د چارو د ادارې د عمومي مشر عبدالوحید قتالي، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر نصیر احمد دراني له خوا د کابل په چهلستون بڼ کې پرانیستل شو.



دا ننداړتون به ددریو ورځو لپاره(۱۱-۹ زمری) د ننداړچیانو پر مخ پرانستی وي، چې په کې د هیواد متشبیثینو او په ځانګړي ډول ۱۸۰ تنو ښځو متشبیثینو خپل لاسي او وطني تولیدات په ۲۰۰ نندارېزو غرفو کې ننداړې او خرڅلاو ته ایښي دي.



په ننداړتون کې ۱۹۰ نندارېزې هټۍ (غرفې ) د لاسي صنایعو او ۱۰ نورې د خوراکي توکیو دي. دا د هیواد په کچه لومړنی ننداړتون دی چې متشبیثو ښځو په کې له ټولو ۳۴ ولایتونو څخه برخه اخیستې او خپل لاسي توکي او نور تولیدات یې خرڅلاو ته ایښي.



# په کندهار ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له‌خوا د کلیوالي تولیدات‌و درې ورځنی نندارتون جوړ شو



د کندهار ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا ریاست د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له خوا د هېواد د د خپلواکۍ د ۱۰۰مې کالیزې په مناسبت د کندهار والیت د دوهمې عبنو مېنې د کنفرانسونو په تالار کې د دریو ورځو لپاره د کلیوالي تولیداتو نندارتون په لار واچول شو.

د نندارتون پرانسته چې د کندهار ولایت د مرستیال ښاغلي عبدالحنان منیب له خوا وشوه، د کندهار ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس محمد نسیم ایوبي، د کندهار ولایت د ښځو چارو رییسې آغلې رقیه اڅکزۍ، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د جنوب زون رییس داکتر محمد یعقوب او د پروګرام د سویل لویدیځ زون د ۵۳ متشبثینو په شمول د دې پروګرام یو شمېر کارکوونکو ګډون درلود.

په دې نندارتون کې د کندهار ولایت د ډنډ او دامان ولسوالیو سربېره د جنوب لویدیځ زون له نورو ولایتونو لکه؛ ارزګان فراه او نیمروز څخه شا و خوا ۵۳ ښځینه او نارینه متشبثینو برخه اخیستې او خپل لاسي تولیدات یې د خپلواکۍ د سلمې کالیزې په مناسبت د هېوادوالو نندارې ته وړاندې کړې.

د نندارتون برخوالو ته پخپلې وینا کې د ولایت مرستیال ښاغلي عبدالحنان منیب لومړی د غازي امان الله خان په اقتصادي او پرمختیایي پلانونو رڼا واچوله او بیا یې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا په ارزښت خبرې وکړلې، چې د کلیوالو ښځینه او نارینه متشبثینو لپاره یې د دا ډول نندارتونونو جوړول خورا ګټور وبلل.

له هغه وروسته د کندهار ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس ښاغلي محمد نسیم ایوبي په کندهار ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د فعالیتونو او لاسته راوړنو په مناسبت د نندارتون برخوالو ته معلومات وړاندې کړل.

په پای کې د ښځو چارو رییسې آغلې رقیه اڅکزۍ د کلیوالو مېرمنو لپاره د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د ارزښت ترڅنګ په ملي او نړیواله کچه د کلیوالو متشبثینو په ځانګړي توګه د مېرمنو لپاره د داسې نندارتونونو جوړول ډیر اړین او پر ځای اقدام یاد کړ.

یاد نندارتون په کندهار ولایت کې د دریو ورځو لپاره دوام درلود.

# د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام لهخوا په هرات ولایت کې د کلیوالي تولیداتو ننداړتون جوړ شو




د ننداړتون د پرانیستغونډې په مراسمو کې د ولایت مقام اقتصادي سلاکار بشیر احمد ابراهیمي سربېره د ولایتي شورا استازو هر یو ښاغلي کبیر ایثار او میرمن سکینه حسیني، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام مرستیال محمد وحید ابراهیمزاده، د کلیو بیارغونې او پراختیا سرپرست رییس وحید احمد نویدي، د دې ولایت د اقتصاد ریسې اغلې همتي، د آب رسانی د پروګرام ولایتي رییس انجینر راتب حمیم، د او د غالیو د صادروونکو د اتحادیې رییس، د پراختیایی شوراګانو رییسانو او د دې ولایت یو شمېر مېرمنو په لویدیځ زون کې د پنځم ځل لپاره د (هرات ولایت) د کلیوالی بازار په ننداړتون کې ګډون وکړ.

په دغه ننداړتون کې له ۶۵ څخه (کوچنیو او منځنیو متشبثیو) خپل تولیدات نندارې تـه وړاندې کړل، چې په دې ولایت کې یې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام لهخوا ملاتړ کیږي. همدا راز له فراه ، غور او بادغیس ولایتونو څخه هم په دې ننداړتون کې یو شمېر متشبثین د پروګرام لهخوا را بلل شوي وو.

دغه ننداړتون د دریو ورځو لپاره د هرات ښار د لاله باغ سړک تر څنګ په پراګې پارک کې ترسره جوړ شو. چې په ننداړتون کې راغلیو متشبینو، د تولیدي ګروپونو غړو، کوچنیو او منځنیو کاروباریانو د دې زون له څلورو ولایتونو څخه د پروګرام په ملاتړ ګډون وکړ او د محصولاتو او تولیداتو د کیفیت او کمیت سربېره یې د کاروبارونو د پیل په اړه د مالي تمویل او د بازار موندنې په برخو کې نظریات او څرګندونې خپل ترمنځه شریکې کړلې، هبره دې نه وي چې په دې ننداړتون کې متشبثینو خپل مختلف تولیدات، لکه: پورسس شوي خوراکي توکي، اوبدل شوې غالی، لبنیاتي تولیدات، عسل او د مچیو پاللو پروسه، د دې ولایت مشهور تولید زعفران او نور لاسي صنایع د هېواد والو په چوپړ کې نندارې ته وړاندې کړل.

په دې ننداړتون کې ۳۵ غرفې د هرات ولایت متشبثینو ته ځانګړې شوې وې او په ۱۵ نورو غرفو کې له فراه، غور او بادغیس ولایتونو څخه راغلیو متشبثینو خپل لاسي تولیدات ځای پر ځای کړي وو، چې د ټولو غرفو شمېر ۵۰ ته رسېده.

د ننداړتون په پرانست غونډه کې، ښاغلي بشیر احمد ابراهیمي له کورنیو تولیداتو څخه ملاتړ وکړ او په ځانګړې توګه یې د ښځینه متشبثینو لپاره د اسانتیاو په اړه ټینګار وکړ. هغه د کلیوالي اقتصاد د پراختیا ملي پروګرام له اغیزمنو او په هېواد کې له خورا مشهورو او بریالیو پروګرامونو څخه یاد کړ او په دې برخه کې یې د سیمه ییزه تولیداتو او سودا ګریو سره دا پروګرام د دولت له خوا د ملاتړ کوونکو پروګرامونو څخه وګاڼه.

همدا راز محمد وحید ابراهیم زاده د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام اجرایوي مرستیال پخپلو خبرو کې وویل: د کلیوالي اقتصاد پیاوړتیا ملي پروګرام فعالیتونه د کاروباري ورتیاو په جوړولو، د دوامداره عایداتي سرچینو په رامنځته کولو، د سیمه ییز اوسدونکو په ځانګړې توګه مېرمنو ته د کارموندنې د زمینې په برابرولو څرخیږي. چې اوس مهال یې د هرات ولایت څلور ولسوالۍ تر پوښښ لاندې نیولې او د دې ولسوالیو د ۳۶۰ کلیو اوسېدونکې به ورڅخه ګټه پورته کړي. په دې کلیو کې به پروګرام ۲۸۷۶ د سپما ګروپونه د پور او سپما ۳۶۰ اتحادیې او همدا راز یو شمېر تولیدي ګروپونه جوړ کړي. چې د دې اقتصادي بنسټونو له جوړولو څخه موخه د پانګونې لپاره په کلیوالي کچه د سپماو کلتور او دود جوړول، په هوسا ډول د اقتصادي او تولیدي فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه مالي سرچینو ته لاس رسی پیدا کول او په مستقیم او غیر مستقیم ډول په مختلفو برخو کې هېوادوالو په ځانګړې توګه کلیوالي مېرمنو ته د کاروبارونو او مشغولتیاو پیدا کول دي.



# د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د مرکزي زون یو شمېر ټولنیزه کارکوونکو ته د ارزونې  او سروې په برخو کې روزنیز ورکشاپ ورکړل شو



د پلازمېنې کابل په شمول د مرکزي زون  اړوند (پنجشیر، پروان، کاپیسا، بامیان، مېدان وردک، لوګر او دایکندي ولایتونو یو شمېر کارکوونکو ته د پروګرام له فعالیتونو څخه د  څارنې او ارزونې په موخه د څارنې او ارزونې په برخو کې روزنیز ورکشاپ د پروګرام په مرکزي دفتر کې جوړ شو.

په دې روزنیز ورکشاپ کې ټولنیزه کارکوونکو پخپلو سیمو کې د پروګرام د بنه پلي کېدا په مناسبت له اړوندو ستونزو، ننګونو څخه یادونه وکړه او خپلې اندیښنې یې له مرکزي پروګرام سره شریک کړل، چې د اړوندو څانګو د مسوولینو له‌خوا ورته مناسبې حل لارې په ګوته او لازمي مشورې ورکړل شوې.

د یادولو وړ ده چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام به پخپلې راتلونکې پنځه کلنه موده کې په پلازمینې کابل کې نږدې ۸۲۳۸ سپما ګروپونه، ۱۰۳۰ تولیدي ګروپونه او  ۱۹۳۹ د پور او سپما کلیوالي اتحادیې جوړې کړې؛ چې بیا به له دې اتحادیو سره د  پروګرام له‌خوا ۷۲۷ میلونه افغانی بلا عوضه مرسته هم وشي.

# د شمال ختیځ زون له سیمه ییزه فعالیتونو  څخه د پروګرام د یو شمېر ګټه اخیستونکو لیدنه



د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام له‌خوا په شمال زون کې د پروګرام یو شمېر ګټه اخیستونکو ته د متشبثینو له فعالیتونو څخه د زده کړې په موخه روزنیزه لیدنه چمتو شوه. د بلخ ولایت په کلیوالي سیمو کې د پروګرام  پخوانیو ګټه اخیستونکو  د څلورو ولایتونو له نویو راغلیو متشبثینو  سره د سپما ګروپونو د کارونو، د کوچنیو پورونو د راکړو ورکړو، د ښځینه کوچنیو تشبثاتو د پېل او د سوداګریو په برخو کې خپلې تجربې شریکې کړلې.

په دې روزنیزه لیدنې کې د شمال ختیځ  زون د بدخشان، بغلان، تخار او کندز  ولایتونو ۲۶ مېرمنو له خپلو محارمو سره یوځای له بلخ ولایت څخه لېدنه وکړه. د روزنیزه لېدنې پر مهال راغلیو ګټه اخیستونکو  ته د اسلامي بانکدارۍ تر عنوان لاندې د  قرض الحسنه او د مضاربت په برخو کې

په دې روزنیزه لیدنه کې راغلیو مېرمنو د خوښۍ ترځنګ، په ډاګه کړه چې د بلخ ولایت له مېرمنو سره یې د لېدنو په ترڅ کې د خپلو تولیدي او سوداګریزه چارو د پیاوړتیا او پرمختیا په موخه ډېره لوړه اقتصادي انګیزه ترلاسه کړله؛ چې د ورځنیو کارونو ترځنګ له دوی سره مرسته کوي.

 د یادونې وړ ده، چې د لومړي ځل لپاره د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام یو شمېر ګټه اخیستونکي د هېواد له یو زون څخه بل زون ته د پروګرام د سیمه ییزه تشبثاتو له فعالیتونو څخه د لیدو په موخه سفر کوي.

هیره دې نه وي چې د دې روزنیزه لیدنې لپاره له هر ولایت څخه ګډون کوونکو ته دوه کاري ورځې ځانګړې شوې وې.



# د خپلواکۍ سلمې کلیزې په مناسبت د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام له لوري د لاسي صنایعو درې ورځنۍ نندارتون په ننګرهار کې جوړ شو



ننګرهار ولایت مرکز جلال اباد ښار شیرزي لوبغالي کې د ختیځ زون په کچه د زمري په ۱۶مه کلیو پراختیا ادارې له لوري د خپلواکۍ سلمې کلیزې په مناسبت د لاسي صنایعو درې ورځنۍ نندارتون پرانیستل شو.

د دغه نندارتون د پرانیستې په مراسمو کې ننګرهار والي شاه محمود میاخیل، د ادارو رئیسانو، مېرمنو، ځوانانو او ګڼ شمېر نورو ګډون کړی و.

ننګرهار والي شاه محمود میاخیل وویل، چې دغه درې ورځنۍ نندارتون د هېواد خپلواکۍ سلمې کلیزې په مناسبت او د ختیځ زون کلیوالیو مېرمنو د اقتصادي پیاوړتیا په موخه جوړ شوی، چې په کې مېرمنو له لوري په لاس جوړ شوي توکي نندارې ته ایښودل شوي دي. نوموړي د کلیو پراختیا ریاست له مسئولینو مننه وکړه، چې په دې ولایت کې یې د کلیوالو مېرمنو اقتصادي پرمختګ په موخه نندارتون جوړ کړ او وطني تولیداتو پلور او ترویج ته یې زمینه برابره کړه.

ده پر ټولو ننګرهار مېشتو غږ وکړ، چې وطني تولیدات وپیري، ترڅو وطني تولیدات زیات تولید او اقتصادي پرمختګ رامنځته شي.

په دغه نندارتون کې د مېرمنو په لاس جوړ شوي خوراکي او غیر خوراکي توکي غالۍ، ښځینه جامې، بوټان، پټو، اچار، مربا او نور توکي ایښودل شوي، چې په ښه کیفیت سره جوړ شوي او په مناسبه بیه پلورل کیږي.

په نندارتون کې د بېلابېلو ولایتونو لسګونو کسانو ګډون کړی و او د وطني تولیداتو څخه یې لیدنې ترڅنګ د خپلې خوښې توکي وپیرل.

دغه نندارتون تر درې ورځو پورې دوام لري او هېوادوال کولی شي، چې د لیدنې ترڅنګ په کې د خپلې خوښې توکي وپیري.

## زموږ سره اړیکه:


د نیله‌باغ سړک، دارالامان واټ، کابل-افغانستان

www.weerdp-mrrd.gov.af

www.facebook.com/weerdpofficial

@weerdpofficial

abdulwafi.nayebzai@mrrd.gov.af

+93 707 655 650


